**د دواطلبی خبرتیا**

د دواطلبی ګڼه: (AHSP/1405/NCB/G-104)

د امارتي شرکتونو لوی ریاست تر چتر لاندې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، ټولو لیوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو د دې شرکت د اړتیاوو په پار د (۳۰) کیلو واټ په ظرفیت د یو پی اس (UPS) او اړونده وسایلو پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر ټړلي/بند آفرونه د شرطپاڼې د شرایطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۵ کال دجوزا میاشتې تر (۱۳ مې) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اوومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمریت ته تسلیم کړي. هېره د نه وي چې نا وخته او د بریښنالیک له لارې رسېدلي آفرونه نه منل کیږي.

همدارنګه د یادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمریت څخه او یا هم ( Hadi.ahmadzai@ahsp.af   shahab.ghaznawy@ahsp.af او کاپی: mk.marwan@ahsp.af,) برښنالیکونو ته د برښنالیک استولو له لارې تر لاسه کړي.

د یادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۵ کال دجوزا میاشتې په(۱۳ مه) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د کابل ښاروالۍ د اوومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، د غونډو په تالار کې نیول کیږي.